# د غني خان د ژوند او د شاعرۍ یوه تجزیه

# An Analysis of Ghani Khan's Life and Poetry

Muhammad Ali Dinakhel [1] Dr. Noorul Amin [2]

**Abstract**

*Abdul Ghani Khan (1914-1996) born in Hashtnagar in the present-day Khyber Pakhtunkhwa province of Pakistan. After his early education, he studied further at the art academy at Ribindranath Tagore's university India and sometime chemical engineering in the United States of America. He developed his skills of painting and sculpture in India. He worked in Takht Bhai Sugar Mills. Although he joined politics but he is remembered as a philosopher-poet, and artist of sculpture and painting. He spent few years in prison where he wrote his poetical collection "Da Panjray Chaghaar". He also wrote his famous book "The Pathan: A Sketch" in English in 1947. His observation and interaction with different societies and cultures enriched his experiences which is found in his poetry. His selected poems, called "The Pilgrim of Beauty", have been translated into English. For his contributions to Pashto literature and to the art of sculpture and painting, he is known among all Pashtuns. This article presents a brief overview of his life and literary works.*

**Key Words**: Ghani Khan, Pashto Poetry, Painting, Bacha Khan, Pashtuns.

پیدائش

غني خان د بهرام خان د ځلورم ځوي عبدالغفار خان ورومبے ځوے دے ۔ غني خان د هشتنګر په علاقه کښې د اتمانزو په کلي کښې په جنوري 1914ء کښې زیږېدلے دے۔[1] غني خان د محمد زی قبیلې د ذیلي ښاخ خوازي خېل سره تعلق لري ۔ د مور د طرف نه نیکهٔ یې د هشتنګر مشهور خان یار محمد خان وهٔ ۔

[1] Lecturer, Area Study Centre, University of the Peshawar
[2] Associate Professor of Pakistan Studies, Islamia College University, Peshawar

هشتنګر په اتۀ کلو مشتمله علاقه ده چې پکښې چارسده، شبر پاؤ، اتمان زي، عمرزي، ترنګزي، تنګے، پړانګ او رزړ شامل دي.

په دسمبر 1915ء کښې د عبدالغفار خان دويم ځوے عبدالولي خان پېداشۀ. د ولي خان د پېدائش نه څۀ موده وروستو په هشتنګر او چاپېره علاقو کښې د انفلوئنزه وباخوره شوه. د دې وبا باره کښې عبالخالق خليق داسې وايي.

وادۀ وشۀ خو ناخاپه يو غوغاشوه
په جهان باندې خوره انفلوئنزا شوه

په وطن کښې مونډے نه شۀ داسې کور
چې پراته به پکښې نه وو درې څلور

خو په سلو کښې شپېته به رغېدل
او څلوېښت به د مرګي نهنګ خوړل[2]

د دې وبا يې مرض د لاسه غني خان هم ډېر ناروغه شۀ. د غني خان د يوې وېډيو انټرويو مطابق د ډېرو علاجو نو نه وروستو يوه ورځ د هغه مور د هغه سر ته ودرېده او الله پاک ته يې زاري او کړه چې د غني خان دا تکليف په ما راوله او بس رب ته هم داسې منظوره وه چې د شپږو کالو د غني خان او د څلورو کالو د ولي خان نه يې د هغوي پينځويشت کلنه مور د همېشه د پاره جدا کړه.[3] بيا عبدالغفار خان په رشته دارو کښې بل واده او کړۀ او د هغې نه يې دوه بچي مهر تاج او عبدالعلي خان پيدا شول او بيا دغه بي بي هم عېن په ځوانۍ کښې پۀ خواږه خوب او ده شوه. غني خان ټول عمر د خپلې مور د مينې کمے ډېر زيات محسوس کړے دے. په خپل يو نظم "مور" کښې هغه څۀ دارنګ خيالات څرګندوي.

Pukhtunkhwa Journal

ګرچې خاورو کښې دې پټ وجود شته موري
ماته يادې هغه شان ستا سترګې توري

موري ستا لاسونه مانه نۀ دي هېر
چې تکليف کښې به زما نه وو چاپېر

د غني خان د ماشو موالي باره کښې د افغانستان ستر محقق عبدالروف بېنوا وايي چې غني خان په وړو کوالي ډېر ښائسته وۀ مور و پلار پرې ډېر مئېن وو ـ د سرو زرو يو نيکلس به يې په غاړه وۀ او پۀ ښي غوږ کښې به يې د سرو زرو يو رينګ هم وۀ ـ يوه ښکلې ټوپۍ به يې په سر وه چې د تېلې ګلکارۍ به پرې شوې وه او تعويزونه به پکښې هم لګولي شوي وو ـ چې هغه د بدو سترګو نه او ساتي ـ د دې نه وروستو به عبدالغفار خان د پښتنو د خدمت او سياست په لړ کښې همېشه ناوزګاره وۀ او د بچو د تر بيت ذمه د دوي ترۀ ډاکټر خان صاحب او دهغه د بر طانيې بي بې واخسته، او د دوي يې ښۀ پالنه يې اوکړه ـ

تعليم

غني خان وړومبۍ زد کړې د جماعت د يو ملانه او کړې په عربۍ او فارسۍ کښې يې ښۀ مهارت حاصل کړۀ ـ[4] خو د ملا د سختو سزا ګانو او سختيې رو يې دوجې نه د غني خان زړه د همېشه د پاره د ملانه او ټکېدۀ ـ عبدالغفار خان هم دا غوښتله چې غني خان يو مذهبي عالم جوړ کړي خو د افغانستان د غازي امان الله خان د بادشاهۍ خلاف درواېتي مليانوراپاڅېدلو د هغه دغه خيال هم بدل کړۀ ـ د وړومبوزد کړو نه وروستو غني خان په نيشنل هائي سکول پېښور کښې داخل کړے شۀ او چې کله په1921 ء کښې په چار سده کښې ازاد سکول پرانستے شۀ نو عبدالغفار خان خېل دواړه ځامن غني خان اوولي خان په اذاد سکول کښې داخل کړل ـ غني خان به عربي دومره په روانۍ وئېله چې يو ځل د انډيا نه د ازاد سکول معائېنې له د

عربۍ یو لوئے عالم راغلے وۀ نو غني  خان په عربۍ کښې تقریر او کړۀ او بیا یې د هغه سره خبرې هم په عربۍ کښې کولې. هغه عالم تپوس اوکړۀ وئېل دا ماشوم عربے دے نو عبدالغفار خان مسکے شۀ او وئ وئېل نا. دا خو زما ځوے دے. دارنګ غني خان د اتمانزوو ازاد سکول نه میټرک پاس کړۀ. د میټرک نه وروستو هغه جامعه ملیه یونیورسټۍ دهلي کښې داخله واخسته او هلته هغه ته لوئے لوئے استاذان لکه ډاکټر انصاري، حکیم اجمل خان او ډاکټر عبدالسلام ازاد وغېره مېلاؤ شول. خو هلته د یو کال تېرولو نه وروستو هغه واپس را وغوښتے شۀ ځکه چې د امان الله خان په وخت کښې په 1928ء کښې په افغانستان کښې یو سول جنګ ونښتۀ نو امان الله خان د افغان ریډ کریسنټ سو سائټې نه طبي امداد مطالبه او کړه او په دې لړ کښې غني خان هم د فسټ ایډ تربیت حاصل کړۀ.[5] خو دې مشن ته ترهغه وخته افغانستان ته د ور داخلېدو اجازت ورنه کړے شۀ تر څو چې امان الله خان تخت پرېښودے نه وۀ د دې نه وروستو ډاکټر خان خېل ورور غفار خان ته مشوره ور کړه چې غني خان بر طانئيې ته د تعلیم د پاره اولیګي. په 23جولايي1929ء هغه انګلستان ته لاړۀ او د پلار په وېنا څه موده هلته د یو پادري په کور کښې پاتې شۀ کوم چې د غني خان خوښ نه وۀ خو د پلار د وېنا نه مجبوره وۀ. چونکې غني خان ډېر ښکلے وۀ نو د انګلستان پېغلو به هغه همېشه د نظر لاندې ساتلو او بیا چې کله یوه ادا کاره په غني خان ورکه مئېنه شوه نو دهغه دوستانو د دې خبرونه عبدالغفار خان خبر کړۀ. او هغه فوري طور غني  خان ته د انګسلتان نه د وتلو حکم ور کړۀ او دارنګې غني خان په برطانیه کښې د افغانستان د سفیر سردار شاه ولي خان په مرسته امریکې ته اورسېدۀ. او هلته یې په ساوتهـ لوېي زیانه (Louisiana)یونیورسټۍ کښې په کیمیکل انجینئرنګ کښې داخله واخسته په 1932ء کښې چې کله عبدالغفار خان یو ځل بیا قېد کړے شۀ نو غني خان د ما لي مشکلاتو سره مخ شۀ او په کور واله یې هم لوږې تندې راغلې هم دغه وجه وه چې د غني خان د تعلیم سلسله یو ځل بیا نیمګړې پاتې شوه او هغه ته خپل یو رشته دار ټکټ او لېږلو او هغه د امریکې نه واپس وطن ته راغے. هغه جېل ته د خپل پلار ملاقات له لاړۀ. او بیا د جواهر لال نهرو په وېنا اله آباد ته لاړۀ او هلته یې د موتي لال نهرویه کور کښې اته میاشتې تېرې کړې. کله چې بر طانوي پولیسود جواهر لال

نهرو د ګرفتارۍ بندوبست کولو نو هغه خپله لور اندرا ګاندهي او غني خان د شانتي نیکیتن (Shanti Niketan)یونیورسټۍ ته اولېږل۔ دا یو نیورسټي د بهار او د بنګال په بریدپرته ده۔ د دې یورنیورسټۍ بنیاد لوئے فلسفي شاعر رابندر ناتهـ ټیګور په 1901ءکښې اېښودے وۀ۔ دلته غني خان د صحافت په شعبه کښې داخله واخسته او مصوري یې هم دلته ایزده کړه۔ د هغه مصوري خپل یو ځانګړے رنګ لري۔[6]

سیاست

غني خان به د ازاد سکول د وخت نه هم د خپل پلار سره په مختلفو سیاسي غونډو کښې شرکت کولو۔ اکتربر 1927 کښې یوه ورځ په شاهي مهمان خانه پېښور کښې د جمعیت علماء هندیو دروندا اجلاس وۀ چې پکښې لوئے لوئے عالمان لکه مولانا انور شاه کشمیري، مولانا محمد علي جوهر، مفتي کفایت الله، مولانا احمد سعید او مولانا حسېن احمد مدني وغېره شامل وو۔ په دې مو قعه غني خان په اردو ژبه کښې یو ډېر جذباتي تقریر او کړۀ او وئ وئیل تاسو د مسلمانانو او خاص کرد پښتنو صحیح لاز ښودنه او کړئ او یاد پښتنو دې علاقې ته بر صغیر مه وایئ، دې خبرو ټول اورېدونکي ډېر زیات متاثره کړل او مفتي کفایت الله پاڅېدۀ او غني خان ئے ښکل کړۀ۔ سر صاحبزاده عبدالقیوم چې د دې پروګرام صدارت یې کولو هغه ووئیل چې د دې هلک د تقریر نه وروستو زما د صدارتي خطبې هیڅ ضرورت نشته خوهسې رسم به پوره کړم۔

غني خان په تحریک خلافت کښې هم اهم کردار لوبولے دے او هغه وخت کښې د عدم تعاون په سلسله کښې یې د هر قسمه بر طانوي مصنوعاتو مکمل بائېکاټ کړے وۀ۔ غني خان او دهغه ملګرې د تحریک خلافت په سلسله کښې د یو خان حجرې ته وراغلل نو هغه ورته بالختونه کېښودل چې پوشونه یې د برطانوي کپړې جوړ وو نو غني خان هغه بالښتونه ګوزار کړل۔ 1945 کښې غني خان د انډیا د قانون ساز اسمبلۍ غړے وټاکلے شۀ۔ هغه په ټولو کښې کم عمره غړے وۀ۔ په 26 اپریل1947 غني خان د خدایي خدمتګار تحریک د دفاع د پاره یو وسله وال تنظیم "زلمے پښتون" جوړ کړۀ۔ دا تنظیم هغه وخت جوړ شۀ کله چې عبدالغفار خان د دې صوبې نه بهر پاتې شوے وۀ۔ هغه وایي چې دا د مسلم لیګ د تشدد خلاف

یو ردعمل وۀ او د دې مقصد صرف خپله د فاع وه. کله چې سرکننګهم ګورنر شۀ نو هغه ته د دې تحریک د ختمولو حکم ورکړے شۀ. غني خان دهغه سره ملاقات او کړۀ او هغه ورته د مسلم لیګ سره د کار کولو وینا وکړه خو دا خبره عبدالغفار خان ونه منله او د جولايي 1948ء نه بعد غني خان شپږ کاله بندي وساتلے شۀ.

روزګار

په 1934ء کښې غني خان په اترپردېش کښې د ګولاګوکرنا تهـ شوګر ملز کښې دلېبر افیسر په حیثیت بهرتي شۀ خو ډېر زر د خپل قابلیت په وجه د چیف کیمسټ تر عهدې اورسېدۀ. کله چې د تخت بهائي شوګر ملز جوړ شۀ نو دلته د ټیکنیکل منېجر په عهده واخستے شۀ خو په اوله فروری 1943ء کښې یې د حکومت او د میل د انتظامیې د مخالفانه رویې دو جې استعفې ورکړه.

واده او اولاد

د غني خان کور ودانه د رستم جې پارسي کشره لور روشن وه. غني خان په بمبۍ کښې په وړومې ځل د خپل یو دوست په کور کښې روشن اولیده او بس هم دغلته د دواړو سترګې پۀ یو بل خوږې شوې. اول خو عبدالغفار خان د دې رشتې ډېر سخت مخالفت کولو او د غني خان د خور مهرتاج (مسز یحيٰ جان) د وینا مطابق چې کله غني خان غفار خان ته دا خبره او کړه نو هغه ورله یو داسې ګوزار ورکړۀ چې غني خان په زمکه سر د لاندې راو غورځېدۀ خو غني خان د خپل ضد نه نۀ اوړېدۀ او په د سمبر1937 کښې یې د روشن سره وادۀ وکړۀ. کله چې بیا هغه مسلمانه شوه نو بیا عبدالغفار خان ترې ډېر خوشحاله وۀ او ټول خاندان دهغې نه متاثره وۀ. دهغې نه د غني خان یو ځوے او دوه لوڼه پیداشو. غني خان د خپلو لوڼو باره کښې ځکه فکرمند وۀ چې یوه یو هندو ته واده شوله او بله یو کنېډین ته او دواړه په هندوستان کښې میشته شوې. غني خان خپل ځوي فریدون له ډېر په کم عمرۍ کښې وادۀ کړے وۀ. خو دهغه د ځوي فریدون د

ځوانۍ مرګ دهغه په ژوند یوه لویه تیاره راوسته خو بیا به یې هم په خپلو نمسو د ځوي مینه ماتوله چې په هغوي کښې یې بهرام ډېر خوښ وۀ۔[7]

وفات

غني خان په پینځلسم مارچ 1996ء د جمعې په شپه د دوه اتیا کالو په عمر کښې په لیډي ریډنګ هسپتال کښې د دې فاني دنیا نه رخصت شۀ او په خپل کلي اتمانزو کښې خاوروته وسپارلے شۀ۔[8]

د غني خان شاعري

د غني خان د خور مهرتاج (مسز یحیىٰ) د وېنا مطابق غني خان د نهو کالو په عمر کښې شاعري شروع کړې وه ۔ خو غني خان وائي چې ما خپل ورومبے نظم "تسلی" د څوارلس پینځلس کالوپه عمر کښې په 1929ء کښې لیکلے وۀ ۔ د غني خان شمار د پښتو په نوو رومانوي شاعرانو کښې کیږي ۔ غني خان په فطرات او ښکلامئېن دے او د تخیل الوت یې ډېر تېز دے ۔ دهغه خپل د لیک انداز دے او د روایتي شاعرۍ نه یې بغاوت کړے دے ۔ هغه د خپل اسلوب باره کښې داسې وایي۔

که رنګ وي که تراش وي که چاربیته که بدله
په خپله لار روان ئي بې استاذه غوندې یې

د غني اسلوب او موضوعات ځانګړې تیاوې لري -[9] او په باقاعده توګه هغه په پښتو شاعرۍ کښې د نوي فلسفي بنیاد اېښودلے دے -[10] هغه د پښتو د نوې شاعرۍ د باني شاعر او د فیرنګیا نو خلاف د ازادۍ د جنګ د یو لوئے مبارز فضل محمود مخفي نه متاثره ښکاري۔ د غني خان شاعري په دریو برخوو ېشلے شي ۔ هغه رومانوي، سیاسي او انقلابي دي ۔ غني د ذهن په نسبت ضمیر له زیاته توجه ورکوي دهغه په کلام کښې مبالغه یا نېغ په نېغه وچ نصیحت نشته ۔ هغه په ټولنیزوستونزو نه صرف طنز کوي بلکې حل یې هم په ګوته کوي۔

د غني خان د شاعرۍ درې مجموعې چاپ دي چې بيا وروستو د کليات په شکل کښې يو ځائے هم چاپ دي۔[11]

د پنجرې چغار: دا مجموعه په 1956ءکښې چاپ ده۔ دوه سوه او پينځلس مخونه لري۔ ماسټر عبدالکريم پرې پېژند ګلو ليکلې ده۔ دا ټوله شاعري د 15اکتوبر1950ء نه د 27 اکتوبر 1953ء پورې په جېل کښې ليکلے شوې ده۔

د غني پلوشې: دا کتاب په 1339ھ (1960-1961ء) کښې چاپ دے۔ په دې کتاب کښې د 1928ء نه 1949ءپورې ليکلې شوې شاعري چاپ شوې ده او څه نظمونه د پنجرې چغار نه هم اخستلے شوې دي۔ دا کتاب دوه سوه او شپږدېرش مخونه لري۔

دَ افغانستان ستر محقق ګل باچا الفت پرې پېژ ندګلو ليکلې ده۔

د غني فانوس: دا مجموعه په 1978ء کښې چاپ ده او د ه 1950ء نه را په دېخوا شاعري په کښې موجود ده ۔څه نظمونه پکښې د وړومبو دوه کتابونو نه هم شامل دي۔

ګډې وډې: د لېونې فلسفي په نوم به غني خان پۀ پښتون رساله کښې د "ګډې وډې" د سر خط لاندې ليکل کول۔ دا ليکو نه هم راجمع شوې او چاپ شوې دي۔

دي پټهانز اے سکيچ(The Pathans: A Sketch ): د غني خان دا کتاب په انګرېزۍ ژبه کښې ليکلے شوے د پښتنو په دود دستور او نفسيات وغيره باندې بحث کوي۔ په وړومې ځل په 1947 کښې د بمبۍ نه چاپ شوے دے۔ په دوېم ځل دا کتاب په پېښور کښې يونيورسټي بک ايجنسي هم چاپ کړے دے۔[12]

د غني خان د ځينو منتخبو نظمونو ترجمه په انګرېزۍ ژبه کښې هم شوې ده ۔[13]

د شاعرۍ نمونې

غني خان د ښائست او مينې باره کښې دا سې اظهار کوي۔

ستورو ته اسمان کښې يوه ورځ ووئېل هلال
خدائے ادم له مینه ورکړه مونږ له تش جمال

زۀ به پۀ خندا ورکړم د خپل ښائست کمال
ماله که يو څاڅکے مینه راکړي ثوک پۀ سوال

مینه حقیقت حسن سایه د حقیقت ده
حسن له زوال شته مینه نۀ لري زوال

هغه مینې ته په ښائست فوقیت ورکوي او وجه يې دا ښائي چې مینه يوه افاقي جذبه ده کومه چې نۀ ختمېدونکے خیز دے - بل اړخ ته ښکلا يو فاني او ختمېدونکے خیز دے - او هم دغه مینه ده چې حسن ته دوام ورکوي او د پناه کېدلو نه يې بچ کوي -

په روايتي توګه چې د مینې کوم تقسیم شوے دے چې يو ته حقیقي مینه وائي او بل ته مجازي او بیا دا هم وائي چې حقیقت ته د رسېدلو د پاره د مجاز د پورې نه تېرېدل پکار وي غني خان د خپل فهم مطابق دغه خبره ډېره په اسانه په دې شعر کښې بیان کړې ده -

سرداري نه کبرې د توري د مستۍ نه بغیر
الله لیدے نه شي د حسن پرستۍ نه بغیر

لکه څنګه چې د اسلام د سپیڅلي دین سره د نورو مذهبونو هم دا وینا ده چې د مرګ نه بعد به بیا ژوندي کېدل وي دغه خبره هم غني خان په ډېر منطقي انداز د يو ساده مثال سره په دې شعر کښې بیان کړې ده -

زه نۀ منم نۀ منم یاره مرګ انجام د هستۍ نه دے
خلاسپدل شراب په جام کښې اختتام د مستۍ نه دے

د تصوف یوه فلسفه چې په انګرېزۍ کښې ورته Pantheism وائي - د دغه فلسفې د پاره په تصوفي ادبیاتو کښې د فلسفه وحدت الوجود نوم کارولے شوے دے - د دې په حقله غني خان دا خیال لري.

سترګو د جانان کښې کله کله د ګل پاڼو کښې
زه یې هر ځائے وینم شپځه جوړ کړه جومات نوروله

انسانان خپلو اهدافو ته د رسېدلو د پاره کوششونه کوي خو د غني خان د وینا مطابق دا تقسیم د بل چا په لاس کښې دے چې د چا په قسمت کښې یې څه لیکلي وي هغه به ورته رسیږي -

باغ کښې ځوک ګلاب شي ځوک سروي شي ځوک ورخاړي
ځوک د مینځ غنچه شي ځوک کبل د غاړي غاړي

تاج د چا د زرو د چا تاج شي د غمونو
وېش د بل په لاس دے که ته خاندي او که ژاړي

د انسانیت په حقله د هغه خیال ډېر د قدر وړ دے - هغه د هر ځیز نه مقدم انسانیت ګڼي - دغه پیغام د الله پاک په کلام کښې هم دے چې فرمائي چې انسان مې په ټولو تخلیقاتو کښې په بهترین انداز جوړ کړے دے -

کعبه جوړه ابراهیم کړه زۀ جوړ کړے یم الله
وایه څوک لوئے شۀ او چت شۀ وایه وایه اے ملا

تکبر او غرور باره کښې داسې وایي
هوښیار هغه دے چې خپل ځان کښې خر توب ویني
خر هغه دي چې خپل ځان ګڼي هوښیار

دا ډېره بنیادي خبره ده او نن سبا پښتنو له په دي خبره ډېر غور کول پکار دي ځکه کله کله پښتانۀ بې ځایه د څه خاص مصلحتونو د وجې په خپلو غلطو سترګې پټوي او منلو ته یې تیار نۀ وي نو په داسې صورتحال کښې چې څوک خپلو غلطیانو منلو ته تیار نۀ وي هغۀ به د دغه غلطیانو اصلاح څرنګ اوکړي او بغېر د اصلاح نه پرمختګ ممکن نۀ دے -

نتیجه

د غني خان د ژوند په حقله د موجود دستاویزاتو، د هغه د اډیو او ویډیو انټرویګانو او د هغه د شاعرۍ د تجزیې نه دا پته ولګېدله چې د هغه ژوند د ماشومتوب نه تر بوډاتوب پورې د یو شمېر مشکلاتو سره مخ وۀ - په ماشوم توب کښې د مور پلار د مینې نه محرومه پاتې شۀ - د هغه د پلار عبدالغفار خان (باچا خان) د پښتنو په سیاست کښې د مخکښې کېدلو او پوره سیمې د سیاسي اړې ګړې او د وخت د ناسازه حالاتو په وجه هغه چې څنګه تعلیم غوښتلو هغه یې پوره نۀ کړې شو- د خاندان او ثقافتي پابندیانو د وجې هغه ته د خپلې خوښې د زیبا هنرونو په میدان کښې هم د مخکښې تللو موقعه په لاس ورنۀ کړے شوه - که یو طرفته هغه د یو خان او د یو لوئے جائېداد د مالک ځوے وۀ خو بل طرف ته هغه د سیاسي او نورو وجوهاتو په وجه د یو شمېر معاشي مشکلاتو سره هم مخ شو- د دې ټولو حالاتو باوجود هغه د مشرقي تهذیب او ثقافت سره سره د مغربي تهذیب او ثقافت نه پوره پوره واقفیت حاصل کړو- هغه د اسلام سره

سره د نورو مذهبونو نه هم خبر شو- دې ټولو مشکلاتو، نويو او ناشنا حالاتو او نويو تجربو د هغه شاعرۍ ته يو نوے رنګ وبخښلو د کوم په وجه چې د هغه شاعري د نورو پښتنو شاعرانو نه بدله په نظر راځي -

## حواله جات

[1] Murad Ali, A Comparative Study of P.B Shelley and Abdul Ghani Khan, (M.Phil Thesis) Pakistani Languages Department, AIOU, Islamabad, 2011.

[2] خليق، عبدالخالق، زۀ او زما زمانه، پېښور، اداره اشاعت سرحد ، ۱۹۶۸ ، مخ:۲۷

[3] Legendary Pashtun Poet Ghani Khan rare Interview Old video: availabale at https://www.youtube.com/watch?v=DfriI7JJHZg retrieved on 18/5/2023.

[4] Legendary Pashtun Poet Ghani Khan rare Interview Old video: availabale at https://www.youtube.com/watch?v=DfriI7JJHZg retrieved on 18/5/2023.

[5] Legendary Pashtun Poet Ghani Khan rare Interview Old video: availabale at https://www.youtube.com/watch?v=DfriI7JJHZg retrieved on 18/5/2023.

[6] Khan, Muhammad Sher Ali. Ghani Khan: The Poet-Painter (1914-1996). The Journal of Humanities and Social Sciences, Vol. XXI, No. 2 (2013), University of Peshawar, pp. 63-72

[7] Babar, Shazia. Abdul Ghani Khan and John Keats; Peshawar, Pashto Academy, 2005, p.49

[8] Gupta, O, Ghani Khan. In Encyclopaedia of India, Pakistan and Bangladesh, Delhi, Isha Books, 2006.

[9] Marwat, Fazal Ur Rahim, Abdul Ghani Khan: The Renaissance Man. Journal of Humanities and Social Sciences, Vol. XIV, No. 2, Peshawar, University of Peshawar, 2006, pp. 56-68.

[10] Arbab, Safoora. Ghani Khan: A Postmodern Humanist Poet-Philosopher, SAGAR: A south Asia Research Journal, Vol. XXIV (2016), pp. 24-63

[11] خان، عبدالغني، کليات غني، د قبائيلو وزارت افغانستان، ۱۹۸۵

[12] Khan, Abdul Ghani. The Pathans: A Sketch. Peshawar, University Book Agency, 1947/1958.

[13] Sahibzada, Imtiaz Ahmad (Translator). The Pilgrim of Beauty: Selection from the Poetry of Abdul Ghani Khan. Islamabad, The Army Press, 2014.